ليکونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسام (مل)

# په گران افغانستان کی زړه دردونکی خراب روغتيايی خد مات

دغه پورتنی سر ليک هغه پرا گراف دی چی د نهضت آينده په مرام نا مه کی د اجتماعی وضيعت تر عنوان لاندی تری نه يادونه شوی دی .او داسی انگيزی چی دغه خراب روغتيايی خدمات د افغانستان د سياسی ، امنيتی ، او د اقتصادی وضعی محصول او لاسته راوړنه دی ، کوم چی موجوده دولت د افغانستان خلکو ته د مجانی صحی خدماتو د عرضه کولو څخه ځان بچ کړی ، او د افغانستان بی وزلی خلک د روغتيايی خدماتو له نظره هغه ډول صحی پرسونل ته سپارلی چی د تجربی له لحاظه کاملاً ځوان او يا دا چی د اوږدی مودی پرکتس نه لری او د هغو يو شمير د غربی هيواد و څخه راغلی چی د خپل هيواد د ناروغيو په پتالوژی وارد نه دی ، د موجوده صحی پرسونل زيات شمير د پاکستان په صحی مراکزو کی تربيه شوی بی له دی چی کوم معين او هدفمند صحی ستراتيژی ولری ، او د بلی خوا دوايی مارکيټ تر دوا خانو چتو پوری د بی تاثير ، او تاريخ تير شوی دواگانو ډک او د درملتونو او د دوايی قاچاقبرانو بازار ډير گرم ساتلی بايد په ډاگه وويل شی ، چی د آينده نهضت مرام نامه د هيواد د نورو نا خوالو په څنگ کی د افغانستان ، اجتماعی ، اقتصادی ، سياسی ،اړخونه په ډير عالمانه اوپه پوره پوهاوی سره څيړلی او د نظر خاوندان ،پوهان ،پر وطن مينان اوکيڼ اړخو لاروايان ته وړاندی کړی . او هم د ستونزو دوتلو لاری چاری په علمی ډول سره په ډاگه کړی چی دټولو په سر

کی دکیڼ اړخو ، دموکراتو،پوهانو اود وطنپالو را ټولیدل په یو کیڼ اړخ گوند او پارټی کی دی، او په پوره باور سره په گوته کړی چی بی له یو منظم ، منسجم ، منضبط کیڼ اړخ پارټی چی دهغه ا سلوب په نقاد نړی لید سمبال وی بریالیتوب مینځ ته نه راځیاو د افغانستان اولس به دتوری ارتجاع له منگلو څخه به خلاص نشی او روشنفکران به دتاریخ د قضاوت له مخی پړ او د ندامت او شرمساری شپی او ورځی به تیر کړی. دنا سم او خراب روغتیایی خدماتو په عرصه کی نن د افغانستان دخلکو خصوصاً دبی وزلوخلکو چی نه کور لری او نه اور په ربښتیا سره دهغوی صحی حالت زړه دردونکی او ډیرغمناک دی . یعنی که چیری هغوی بیمار شی لکه چی اکثراً بیمار هم دی بی له پیسو څخه څرنگه به صحی مرستو ته لاس رسی پیدا کړی ، دا هغه سوال دی چی دافغانستان ځواکمنو دهغه له ځواب څخه عاجز دی. د دی غمجن روغتیایی ترا ژیدی د لا ژور پوهیدو په اړین لازم گڼل کیږی ، چی مستند اوانکار نه منونکی احصایوی او دیموگرافکی ارقام او شاخصو نو ته مراجعه وکړو ، او د هغو په رڼا کی د موجوده جهادی دولت د صحی خدماتو مضمون او د هغه شکل په ربښتیانی او ریالیستیکی بر خورد سره بر بنډ او څر گند کړو . او یو ځل بیا ددی قرون وسطایی اونا بکار ، د پردیو لاس پوڅی دولت اصلی څیره خپل خلکو ته وښیو . تر څو خلک وپوهیږی چی دروغتیا وزارت او دهغه په سرکی له خلکو څخه بیل دولت دخلکو په سر نوشت څه څه ډول لوبی کوی .دیادونی وړ خبره دادی ، چی مو جوده لاس پوڅی دولت ، همغسی چه چی اجیر اوردو ته ملی اوردو او ملی پولیس وایی کوم چی ، مضمون دشکل سره او شکل د مضمون سره مطابقت نه کوی ، چیری ملی اوردو او چیری پاکستانی ډوله اجیر اورد و.لکه چی ټول پری پوهیږو د عامی روغتیا وزارت چی کلونه کلونه د افغانستان خلکو ته وړیا صحی خدمات تر سره کول ، اوس دهغه نوم په روغتیا وزارت اړول کیږی ، یعنی عام خلک چی د افغانستان وگړی دی هغو ته وړیا صحی خدمات نه تر سره کوی

او ځان له خلکو ځنی بیلوی اوپه اصطلاح سره دبیمار تر برستن پښی نه غزوی په دی معنی څوک چی پیسی نه لری ، باید چی روغتیا هم ونه لری ، دادی دروغتیا دوزارت او د جهادی دولت صحی ستراتیژی .په هر صورت له موضوع څخه به نه وځوو، راځی چی په مقایسوی ډول د افغانستان ، پاکستان او د ایران دهیوادونو احصایوی شاخصونه ملاحظه کړو ، یعنی د ارقاموپه ژبه خبری وکړو ، او وګورو چی دشاخصونو توپیر په څه کی دی او دولی ځواب

ولټو اوخپل بحث ته دوام ورکړو ، باید څرګند شی چی دارقامو له ملاحظی څخه وروسته دپرابلمونو عمق اوژورتیا خود په خوده را څرګندیږی او معیوبه حلقه اوکړی له ورایه به و پیژندل شی ، او هڅه به وکړو چی دمعیوبه حلقی دخلا صیدو او دمینځه وړلو دپاره به په ضروری لارو چارو باندی فکر وکړو اوخپل غاړه په اصطلاح سره خلاص اوخپل دیین ادا کړو.

دافغانستان ، پاکستان او د ایران احصایوی شاخصونه د یونیسف

د محقیقینو د احصایوی ارقامو له نظره

---------------------------------------------------------

: 1اساسی شاخصونه: (Basic Indicator)

*د پنځه کلنی عمر څخه ښکته دمړنی اندازه په هر1000ژوندی ولادت کی د یوکال په موده کی افغانستان1960(360) پاکستان (130)1990 ایران1990 (72)

---------------------------------------------------------

*دپنځه کلنی عمر څخه ښکته دمړنی اندازه په هر 1000 ژوندی ولادت کی دیو کال په موده کی افغانستان2003 (257) پاکستان 2005 (99) ایران2005 (36)

-----------------------------------------------------------------

*دیو کلنی نه ښکته عمر کی دمړنی اندازه په هر زر ژوندی ولادت کی دیو کال په موده افغانستان1960 (245) پاکستان 1990 (100) ایران1990 (54)

-----------------------------------------------------------------

دیو کلنی نه ښکته عمر کی دمړنی اندازه په هر زر ژوندی لادت کی دیو کال په موده افغانستان2003 (165) پاکستان 2005 (79) ایران2005 (31)

-----------------------------------------------------------------

دهیواد دوګړو مجموعی شمیرپه 1000افغانستان (23897) پاکستان (157935) ایران (69515)

-----------------------------------------------------------------

دکلنی ولادتونوشمیر په 1000 افغانستان (1136) پاکستان (4773) ایران (1348)

-----------------------------------------------------------------

دسړی په سر کلنی عاید په امریکایی ډالر افغانستان (36) پاکستان (690) ایران (2770)

-----------------------------------------------------------------

له زیږیدو څخه دژوند هیله او توقع په (کال) افغانستان (43) پاکستان (64) ایران (71)

-----------------------------------------------------------------

له پورتنی ارقامو څخه دا سی جوته کیږی چی افغانستان د خپلو ګاوندیانو په پرتله دصحی ارقامو له نظره ډیر ابتر حالت لری ، د یادونی وړ خبره دادی چی په یوه ټولنه کی دنفوس په نظر کی نیولو سره 3/2 برخه دټولنی مور او ماشوم تشکیلوی ، اودټولنی پاتی برخه کاهلان اویو څه هم زاړه اوبډایان وی چی دکار کولو انرژی نه لری او اکثراً ناروغ او دنورو کمکونو ته ضرورت لری ، په هر صورت مور او ما شوم چی د ټولنی 3/2 برخه جوړی ډیر حساس قشر دی چی په راز راز ناروغیو اخته کیږی ، مګر د دغه حساس ګروپ ناروغی هم د تداوی وړدی او هم په اسانی سره د هغوی ناروغی د مخنیوی وړدی.

په هر صورت لازم ګڼل کیږی چی د مور او د ماشوم له هغه ناروغیو څخه یادونه وکړو کوم چی دهغوی دمړنی سبب کیږی

.

**د مور د مړنی عمده اسباب او فکتورونه**

لاندنی پنځه فکتورونه د مور دمړنی عمده فکتورونه دی ، چی په لنډ ډول پری تم کیږو اولازم نه ګڼل کیږی چی په مفصل ډول وڅیړل شی ، ځکه چی بیا له اصل موضوع څخه وځوو

1-. خونریزی Hemorrhage اکثر امید واری ښځی دحمل په وخت کی د لمن له لاری خونریزی پیدا کوی اوکه چیری سمدلاسه شفا خانی ته مراجعه ونکړی او یا د هغه خونریزی ونه درول شی دمور اود ماشوم په مرګ تمامیږی

.2- انتانات :(Infections) دحاملګی دمودی انتانات ، لکه باکتریا ، باسیلونه ، ویروسونه ، پرازیتونه ، سمارق لکه . candida albicansاو دا سی نور کوم چی دمور د تبی سبب کیږی اویا داچی مکروبونه دهغه په وینه داخل او دوینی

دملوث کیدو  سبب گرځی یعنی ،, septicemiaمینځ ته راوړی چی که چیری دهغه انتان تداوی ونشی septic shock  مینځ ته را ځی چی په پای کی دمور ادماشوم په مرگ ختمیږی

3.-نا امن سقطتونه : Abortion (Unsafe) دمختلفو عواملو په نظر نیولو سره یو حامله داری ښځه دی ته چمتو کیږی چی ورته سقط ورکړل شی ، یوله دی عواملو څخه مثلاً که چیری هغه قلبی عدم کفایه ولری یا دهغه پښتورگی ناتوان شی ، لازم گڼل کیږی چی په یو مجهز روغتون کی دیو ماهر داکتر تر لار ښونی لاندی دهغه حمل ته ختم کړل شی ، اووروسته له سقط څخه تر جدی څارنی لاندی ونیول شی چ خونریزی سره مواجه نه شی ، مگر هغه سقطونه چی په غیر معقم ډول اود ناپوه خلکو پواسطه سره صورت ونیسی دمور دمړنی چانس زیات وی. دحاملگی په موده کی دوینی لوړ فشار (High blood pressure during pregnancy معمولاً دری نقطی ته په لاندی ډول باید پاملرنه وشی:

*. ممکن دی چی یو حامله داره ښځه مخکی د حمل اخیستو څخه دوینی لوړ فشار ولری یعنی یو مزمن فرط فشار خون ولری (chronic hypertention)بی له دی چی اعراض اویا علایم وښیی ، یواځی کله چی دحمل په وخت کی دموظف دوکتور له خوا معاینه اودهغه دوینی فشار کنترول شی په تصادفی ډول سره داول ځل دپاره دهغه دوینی لوړ فشار را څرگند کیږی او دهغه دوکتور پوهیږی چی نوموړی ښځه له ډیر پخوا څخه دوینی لوړ فشار درلوده.

* : preeclampsia دا ناروغی دمور او ماشوم دپاره ډک له خطر وی او دهغه سبب دمور دوینی لوړ فشار او دمور په ادرار کی د پروتین ضایعات دی چی باید زر تر زره دهغه مخنیوی وشی.

*دوینی گذری فرط فشار : (temporary hypertention)
دا ډول فرط فشار خون په گذری ډول سره دحمل په وروستیو وختو کی کله کله مینځ ته راځی چی د preeclampsiaنښی او نښانی نه راښیی.

4-انسدادی زیږیدنه یا ولادت : (obstructed labor) ډیری ښځی دولادت په وخت کی دیو لړ ستونزی سره مخامخ کیږی چی دمور اودماشوم په مرگ ختمیږی ، لکه دولادت دکانال تنگوالی ، دماشوم دسر غټوالی اودمور دحوصیلی یا دلگن خاصری عدم تناظر دماشوم دجمجمی سره ، یا درحم دغاړی نه پرا خیدل او ځنی نور عوامل او ا سباب ،په هر صورت که چیری دولادت په وخت کی دداسی ستونزو سره مخامخ شو ، نو دتداوی بهترین لاره ، caesarean sectionاو Episetom اوځنی نور لاری دی چی مور اوماشوم ته نجات ورکوی. دیو حامله داری ښځی دمړنی نور عوامل پرته له دی پورتنی پنځه عواملو څخه ، دډاکتر نشتوالی ، دصحی خدماتو نیمگړتیا ، دمور بی سوادی ، سوتغذی ، دحمل په وخت کی شاقه کارونه ، ضربه لیدل ، اوځنی نور زیات فکتورونه چی ددی مقالی له حوصیلی څخه ډیر پورته دی ، او لازم نه گڼل کیږی چی په تفصیل سره پری تم شو. دکوچنیانو او دماشومانو دمړنی اسباب (The causis of infant mortality) : له پنځه کلنی عمر څخه 73% دماشومانو مړنی له شپږ لاندنی ناروغیو څخه مینځ ته راځی:

*سینه بغل

*اسهالات

*ملریا

*د جدیدالولادگی د وخت مختلف انتانات

*مخکی له وخته زیږیدنه

*د تولد په وخت کی سږی ته هوا نه رسیدل(Asphyxia)

همدارنگه ، شری (سرخکان) ، توره ټوخلی ، تیتانوس ، پولیو ، دیفتری ،اوځنی نور ی ناروغی کولای شی چی ماشوم په مرگ اخته کړی

*************

ادامه لری

**دمور اود ماشوم دمړنی د فیصدی راټیټول د یو ملی صحی ستراتیژی په رڼا کی دغه برخه په راتلونکی مقاله کی به وڅیړل شی.**

www.ayenda.org